# د ژېړ ګلاب پاڼې

شعري ټولګه



[illegible] درځار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژیړ ګلاب پاڼې

شعري ټولګه

دويم چاپ

ميوند درځار

۱۳۹۷ ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب ځانګړنې

**کتاب نوم: د ژیړ ګلاب پاڼې(شعري ټولګه)**

**شاعر: میوند درځار**

**ډیزاین چارې: وصي ابهام**

**د پښتۍ ډیزاین: اندیش ګرافیکس**

**چاپ کال: ۱۳۹۷ هجري لمریز**

**چاپ شمېر: ۱۱۰۰ ټوکه**

**چاپ وار: دویم**

**خپرندوی: میهن خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد**

**د چاپ حقوق خوندي دي.**

**د ترلاسه کولو پته:**

**میهن خپرندویه ټولنه ـ اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال اباد ښار**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

# آب حیات سترګو ته!

میوند درځار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه به دا ووایم چې!

خبرې ټولې تکرار دي، خوند هله کوي چې د جانان پر شونډو راځي او یا هم داسې د جانانه شاعر د زلزله خیزو تصویرونو په کالیو کې له توپاني احساساتو سره ستا د ذهن په تسخیر پسې ګامونه راواخلي چې سم دې لکه ټال ورسره یوسي او راوړي.

میوند درځار د دې دور همداسې یو شاعر دی، دی لکه د نورو اوسنیو شاعرانو له فلمي صحنو شعر نه جوړوي، د اردو ژبې د لېونیانو او مستانو له اغېز لاندې هم نه دی، د مشرانو شاعرانو پیرو هم نه دی، بلکې درځار د خپلو احساساتو ډوبوونکي ګرداب کې راګېر هنرپرداز شاعر دی.

ډاکټر اسرار اسرار د خپل شعر ژبه داسې ساده جوړه کړې چې هره ملغلره یې سړی ناڅاپه د هیجان څاه ته ور اچوي، ما د هغه په څېر د ساده ژبې توقع له بل چا نه لرله، پښتو بختوره ده، بل اسرار که نه شي پیدا کولی، خو د خپل خیال او ځانګړې لهجې شهسوار درځار یې ضرور موږ ته راکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریبا تکراري خبره ده چې د هر شاعر احساسات ټپي شوي، خو درځار واقعا ټپي شوی دی، تاسې لږ له خپلې کینې اوړې لاندې جیب ته برابر ځای باندې لاس کېږدئ، میوند درځار همدغلته ټپي دی.

د درځار هر غزل د فکر د سمندر یوه زوروره څپه لري او هرڅوک دې څپې ته نه شي درېدلی، زه د درځار د هر غزل په دریابي کلمو کې په همدغه گرداب پسې ضرور کوشش کوم چې ځان په کې ورک کړم.

د درځار غزل واقعي تجربې دي، یوه ورځ یې ماته غزل کې ویلي وو، د سرو چاړه به په خیټه نه منډو، زه یې وژړولم، هغه وخت ما او ده د کلي بل شوی اور ژاړه، بې واره مو ژاړه، خو ده ماته نصیحت کاوه.

یوه ورځ یې په خپل یو بیت کې له زړه ژړلي وو، بیا پخپله د خپلو احساساتو په اړه ماته بې ځوابه و، ویلي یې وو:

د ماښام وېره مې د خدای له وېرې ډېره ده
زه کور ته ځمه د اذان د اورېدو نه پس

په دې بیت یې مات کړم او زه پوه شوم چې زما درځار څه وایي؟

درځار هغه مینه گرکي کلمات غږوي چې د خندا اوعاطفې په پوله مو حیران پرېږدي، هغه د خپل کور و کلي اصطلاحاتو ته د هنر د جامو په اغوستلو کې بې ساری دی.

هغه پر یو وخت په لوستونکي د ژړا، خندا او مستۍ گډ کیفیات راولي او دا د هغه د ساده، طنزیه او هنرمندې ژبې کمال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوووووووهو څه په ښایسته انداز وايي!؟

وواېــه چــې مــونږه ســوله غــواړو! ســوله غــواړو!

ته خــو چــې څــه وغــواړې نــو کېــږي، ګلابونــو!!

د درځار د شاعرۍ نمونې نورې نه راوړم، بیا خو به داسـې شي لکـه زموږ په څېر د شاعرانو له ټولې شعري ټولګې دوه درې بیتونه انتخاب او نور هیڅ....

داسې نه ده، د درځار شاعري د حفظولو ده، پــه زړه کــې د نقشــولو ده، پښتو ادبي او هنري نړۍ ته د نویو اضافو تکراري خبره ډېره ده، خو د درځار شاعري رښتیا د پښتو ژبې لپاره نوې ترینه اضافه ده.

د درځار شاعري د روایتي شاعرۍ د سد ماتولو لپــاره د پښــتون هــنر وروستیو ګوزارونو کې وشمارئ، موږ د شعر نوي پړاو ته د ننوتو ســاه ګانې اخلو.

زموږ سریزه نګاران تل په بره کېني او شاعر له ځانه ټیټ تلي، مګر زه به دا نااهلي نه کوم، زه ویاړم چې درځار لرم، په خوا کې یې لــرم او تر ځان څه چې تر ډېرو اوسنیو یې غښتلی بولم.

تاسې به وګورئ چې میوند درځار به یو وخت د شعر د اسمان داســې ستوری وي چې خلک به یې هر ماښام تر لیلا و مجنون د مخه لټوي.

ستاسو سعید  شینواری

۳ دلوه ۱۳۹۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن پرسته شاعري

په نړۍ کې ډېر داسې شیان شتون لري، چې درک کولی یې شو خو تعریفولی یې نشو. له دغې ډلې څخه یو هم ښکلا ده. او ښکلا ځکه نه تعریفیږي، چې نه کوم مشخص فرمول لري او نه کوم مشخص لیدلوری.

ارواپوهنې په حسن پرستۍ یا حسن خوښونه کې نور عوامل شامل ګڼي لکه، تربیه، تجربه، وخت او جغرافیه. خو که اسلامي ارشاداتو ته وګورو نو تر ډېره به ووینو چې ښکلا فطري ده، نه اکتسابي. ((لقد خلقنا الانسان في احسن تقویم))

هسې خو خدای تعالی هم د ښکلا او جمال خالق دی او ښکلا خوښوي، مشهور حدیث دی چې ((الله جمیل و یحب الجمال)) یعنې خدای ښکلی دی او ښکلا خوښوي. د هغه د اشرف المخلوقات سره هم همدا فطري ادراک د هغه له پیدایښت نه ملګری دی. یعنې انسان په طبعي ډول ښکلا خوښونکی دی او د ښکلا خوښونې ذوق یې تر بل هر موجود پیاوړی او حساس دی. ژر په ښکلا کې ورکیږي. ښکلا له خاصیت څخه مخکې تصور وي په دې معنې چې تر ذات وړاندې د معنې په توګه شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افلاطون په دې اړه وايي چې د انسان روح مخکې له دې چې نړۍ ته راشي د ښکلا حقيقت د تجرد په عالم کې درک کوي.او کله چې په مجازي نړۍ کې حسنويني وربا ندې مينيږي او زړه يې مينه غواړي.

حسن داسې يو شی دی چې چوکاټ او ديوالونه نلري، حسن که په هر څه کې وي حسن دی او د انسان په زړه کې ځای پيدا کوي.

دلته يوه خبره چې د يادونې وړ ده هغه د حسن پرستۍ او حسن څخه د خوند اخستلو توپير دی. حسن پرستي يا حسن خوښونه او له حسن څخه خوند اخستل دوه جلا شيان دي، ځکه حسن روحاني چاره ده او له حسن څخه خوند اخستل بيا جسم ته ورږې سترګې نيول دي.

په ارواپوهنه کې فرويد د ښکلا په اړه دا نظر درلود، چې حسن پرستۍ پيل په جنسي تنده او پايښت يې په جنسي سوړوالي کې دی، خو د فرويد دا خبره ځکه غلطه ده چې مونږ د داسې ډېرو کسانو بېلګې لرو چې حسن پرستي يې جنسي لذت نه ګاڼه.

د درځار په شاعرۍ کې هم د حسن پرستۍ ذوق ډېر لوړ ښکاري، حسن خوښوي، ستايي يې:

له هر ښايست نه لږه لږه مينه وغواړم
ابادوي د خدای کورونه په چندو خلک

د پورته بيت په تاييد يوه خبره کووم، هغه دا چې استاد اجمل ښکلي په يوه مقاله کې ليکلي وو، چې مينه هغه تاثر دی چې يو ښايسته پيکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په انسان کې پیدا کوي. زما په اند مینه له ښکلا څخه نه زیږي، بلکې ښکلا ده چې له مینې څخه پیدا کیږي. که حسن له مینې څخه پیدا کیدلی؛ نو ښکلا به مشخص تعریف درلود. ځکه حسن خوښونه د فردي ذوق مسله ده، او فردي ذوق هیڅکله نشي یوشان کیدلی.

د ښکلا خوښونې ځواک فطري دی نه اکتسابي او درځار ددې خبرې ښکاره مثال دی. دی د یوې جنګ ځپلې او داسې ټولنې وګړی دی چې حسن خوښونه پکې د کفر ټاپه هم لري خو له دې ټولو سره په درځار کې د حسن پرستۍ ماده له هر اړخه پوره ښکاري.

لیکوال او شاعر ته اړینه ده چې د خپل مخاطب د ښکلا پیژندنې له ارواپوهنې سره تر یوه ځایه اشنایي ولري، د ښو اثارو د ښکلا یو راز په دې کې هم دی، چې لیکوال خپل لوستونکي تر لیکلو وړاندې پوره مطالعه کړي. او د هغوی د ښکلا فلسفه او ارواپوهنه یې لوستې ده.

مرحوم استاد شپون به په شعر او کیسه کې په کیوټ او کنټرایفد باندې ډېرې خبرې کولې او ویل به یې چې کیوټ هغه څه دی چې په تصنعي ډول ښکلي وي او کنټرایفد هغه څه دی چې په دومره مهارت طرح شوي وي چې غیرې طبعي ښکاري. د درځار شاعري د کنټرایفد په چوکاټ کې ده.

هر کله چې په یو شخص په  تېره په هنرمند کې  د ښکلا خوښونې ځواک راپاریدلی وي نو نوموړی بیا د بدرنګۍ هر لاره پریدي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه کې دا ښايي چې هغه له نورو د ژوند په نېکمرغيو او رازونو ښه پوهيږي.

د ارواپوهنې څېړنو ښودلې چې انسان خپل ۷٪ رواني او باطني خواهشات په ژبې سره نورو ته وايي خو خپل ۹۳٪رواني او باطني خواهشات په هغه کې دننه پټ دي چې د سترګو په وسيله کولای شو هغه درک کړو يا يې نورو ته  ووايو.

د درځار په شاعرۍ کې سترګې که ووايم د يو سمبول ځای لري او دی ددې لپاره  هم په سترګو مين دی چې د حسن ليدنې لامل دی.

په  هغه  دوه  سترګو  مې  بيا  مينه  راغلې  ده
ياره  چې  دا  خو  مې  څه  نوې  ګناه  ونکړه

دده په شاعرۍ ډېرې خبرې کيدای شي خو زه يې همدلته رالنډوم او د حسن په رنګونو کې يې ډوب غواړم.

**وصي ابهام**

**جلال آباد**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه به نو څه ووایم!؟

زه به نو څه ووایم........

هغه خبرې چې ما به (چاته) مخامخ نشوې کولی، شعر کړي مې دي. خلکو به څکه خوښې کړې وي چې شاید د ځینو پېښو په اړه به مو احساسات یو ډول و او یا به هغوی هم زما په څېر بې زړه او بې خولې وي او د ډلې پر ځای به په یوازې کېناستلو کې ځان ارام او خوشاله احساسوي، ګنې دا کرښې بل هیڅ کمال نلري.

ما شعر کم او په څنډ لیکلی او تر لیکلو وروسته یې راته داسې احساس کېږي لکه له ساعتونو شدیدې تندې وروسته چې د یخو رڼو اوبو په چینه پېښ شوی یم.

که د ملګرو زړه ته مې نه کتلی نو د (ژیړ ګلاب پاڼې) به له شپېتو ډېرې نه وای خو د هغوی په ډېر ټینګار هم د کتاب حجم تر سلو مخونو و نه رسېد او ښه هم همداسې ده، څکه نن سبا مصروفه انسان کتاب لوستلو ته ډېر وخت نه لري او یا وخت نه ورکوي، نو مننه چې د ژیړ ګلاب پاڼې مو د لوستلو په نیت راخیستي.

میوند درځار

جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وخت سره به ګوتې لړې ماتې کړو چې څه کېږي**
**هيلې به د ژوند لپاره زياتې کړو چې څه کېږي**

**ستا له درد نه څوک د زړېدلو اندېښنه لري ؟**
**پرېده پدې زړه کې به يې پاتې کړو چې څه کېږي**

**خدايه په کتاب کې مې وعده د جنت وليده**
**اوس به يې دا پاڼې ورته قاتې کړو چې څه کېږي**

**ما او تا د يو بل د ژوندي پاتې کېدو سبب**
**لاړې به د خولې آب حياتې کړو چې څه کېږي**

**آمن چې *درځاره* د ولس لپاره غواړو نو**
**خپله شاعري به سوله ساتې کړو چې څه کېږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند خفه کړيدي، راټول په ميکدو خلک**
**څو به د زړه اورونه وژني پــه اوبــو خلـک**

**ګنډلې سترګې وچې شونډې په بـازار کـې ناسـت**
**زړونــه تــړي د جنتونــو پــه وعــدو خلــک**

**له هر ښايســت نــه لــېره لــېره مينــه وغــواړم**
**ابادوي د خدای کورونه پــه چنــدو خلــک**

**د بيــدارۍ او رڼــايۍ نــه د قــام مــخ اړوي**
**نو ځنې نـدي د وطـن د پرېښـودو خلـک**

**درځاره ته د زړه خبره دومــره مــه ســپينوه**
**په کيسه پوې شول د کيســې د اورېـدو خلـک**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر سـړی دې نـوم اخـلي غړېـړي ګلابونــو
ښکلې يې نو داسې خـو بـه کېـږي ګلابونــو

څه وايې چې چرتـه بـه تـوده غېـږه پيـداشي؟
ژمـــی دی ميــده بـاران وربېـږي ګلابونـــو

لاس راکه خـو سترګو تـه بـه نـه راتـه راګـورې
خلـک خـو ړانـده نـدي پـوهېږي ګلابونـو

ووايه چـې مـونږه سـوله غـواړو! سـوله غـواړو !
ته خو چې څه وغـواړې نـو کېـږي ګلابونـو

ما د ژوند په لاره باندې مـه پرېـده يـواځې
مينـه بــه ښـه ډېـره رارسـېږي ګلابونـــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې بې وخته مې پــه زړه بانــدې راووربــدې
لکه نرګس چې بــې موســمه بــې بهــاره کېــږي

هغــه ســړی پــه مــا د خپــل مــین بــاور نکــوي
زه خو به مړ یم چې له زړه نــه زړه تــه لاره کېــږي

د ژونــد کولــو حوصــله دې ډېــروي درځــاره
ته ملامته یې چــې کرکــه دې لــه ښــاره کېــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاس دې راکـه زړه دې وساته ملګریـه**
**لکـه مـا چـې درتـه نـه ساته ملګریـه**

**د ژوند لاره د پـردي وطـن بـازار دی**
**مونږ به ځان د چا نه څـه ساته ملګریـه**

**یـو ټوپـک و چـې د ډېـرې زمـانې و**
**د بچـو نـه بـه مـې ښـه ساته ملګریـه**

**هغه سترګې اباسین چپـې چپـې وې**
**ځـان مـې ځکـه ورنـه وساته ملګریـه**

**چې *درځار* و نو له هر سـړي نـه ځـار و**
**پردی غم به یـې پـه زړه ساته ملګریـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګرځم که چرته دې پدې ښار کې درک وکړم**
**کله ناکله خو په بل سړي ستا شک وکړم**

**راځه چې ځو د سیند په غاړه غاړه وګرځو**
**د زړه خبره درته ځنګه په سرک وکړم؟**

**وایم چې نورې به کیسې چاسره نکوم**
**بیا هم باور په یو هلک نه یو هلک وکړم**

**نو آزادي به زه په کومه جذبه وګټم**
**چې دښمني تاسره ستاسو په ټوپک وکړم**

**د لرې مینې ضرورت پوره کولی شم**
***درځاره* في سبیل الله به دې کومک وکړم**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کاڼي کرښې

**اوبه په ډانګ بېلې شوې**
**نوک او وری جلا شوې**
**بد تربور مې**
**په بد ځای کې پکار نشو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په ځېره کې د خدای نور، چشم بـد دور
تــه ملایکــه یـــې ضرور، چشـــم بــد دور

عمـــر د ژمـــي مـــاذیګر، پـــه څـــه بـــاور
بیا هم خندا؟ بیا هم غـرور؟ چشـم بـد دور

د هغـــه ســـترګو پـــه لیـــدو ذکـــر کـــوه
چشم بد دور، چشم بد دور، چشم بـد دور

زمـا پـه ژونـد مـین ولـس اوس هـم لـري
څومره مستي څومره سرور، چشـم بـد دور

***درځـــاره*** ستاســـو دا وطـــن جنـــت وطـــن
لکــه رڼــا د کـــوه طـــور، چشـــم بـــد دور

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا مات کړی اوس بېرته په تا باندې باور کـوي
زړه دی نو، د هر چا په مسکا باندې باور کوي

مانه دې پوښتنه لږه وکړې چې ړوند ولـې يـم
څوک چې د ښارونو په هوا باندې باور کـوي

ما ددې ولس د پيغمـبر جـامې اغوسـتې دي
خلك مې پـه هـره نـاروا بانـدې بـاور کـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند کوو د ژوند د ښه کېـدو مبـارزه کــوو
غم نه کوو غم ته په ژونـدونې جنـازه کــوو

آمن غواړو آمن غواړو، چانه امن وغــواړو؟
سوال د جنتونـو د دوزخ پــه دروازه کــوو

دا ملا زړې کیسې کوي راته خو مـونږه بــه
ځو راځو مونځونه اودســونه بـه تــازه کــوو

لوڅې پښې تشې ګېډې ډله یوو پیتاوي ته
نکــل د پنځــه زره کلونــو پــه مــزه کــوو

ته ***درځاره*** کومو سترګو داسې ځنګــولی یــې؟
دا نشه خو مونږه د کوکنارو پــه غــوزه کــوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه! په محبت کې دې تاوان دی نــوره ســتا خوښــه
هر سړي چې کړی پښېمان دی نوره ستا خوښــه

سترګې مې ستونه درته نکوي چې پــاتې شــه
عقل مې په تا پسې روان دی نوره ستا خوښه

واخله کنه ستا بــه سرمایــه د مینــې ډېــره شي
ژوند مې لیلام کړی په غیران دی نــوره ســتا خوښــه

راشه چې پدې دنیا جنــت دربانــدې وګــورم
بیا د پســرلي پسې خزان دی نوره ستا خوښــه

ما سره به جنګ په خوله او سترګو بانــدې نکــوې
سوله مې د ټول عمر ارمان دی نوره ســتا خوښــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کال وروسته دادی بیا پسرلی راغی
د رنګونو په رڼا پسرلی راغی

ستا جنت ته سل او زر کلونه پاتي
دلته اوس دادی ملا پسرلی راغی

اول ځاځکی ځاځکی اوښکې بیا په لپو
څه د ژمي په هوا پسرلی راغی

دې وطن ته د سوونو شهیدانو
د سرونو په سودا پسرلی راغی

ملامته درته نه یمه ***درځاره***
خو څه در به شم چې دا پسرلی راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډېـر انتظـار وشــو د ګــل د ټوکېــدو لپــاره**
**دُعــا مــې وکــړه د بــاران د ورېــدو لپــاره**

**د ژیړ ګلاب پاڼې د لیک سره جــوړه راغـلي**
**صبر پکــار دی پــه مطلــب د رسـېدو لپــاره**
**ما چې د چا سترګو ته ټولـه شــاعري کړېـده**
**وعده یې کړې چې راځي د اورېــدو لپــاره**
**په ډک بازار کې خدای په مخه باندې راوستلې**
**وخــت دې پیــدانکړ د مــخ د پټېــدو لپــاره**
**زما ارمان دی چې بې جنګــه زمانــه وګــورم**
**جنت تــه نــه ځمــه د شــاتو او شــیدو لپــاره**

***درځاره*** **ستاسو ښار د کلي نه په ځــه ښایســته دی؟**
**یو ځــل خــو راشــه د ملګــرو د لیــدو لپــاره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پـــدې ســـترګو کـــې لـــذت د جنتونـــو**
**خدایـــه تـــه وســـاتې پـــت د جنتونـــو**

**د ژونـــد نـــورې هیلـــې نلـــري نـــو ځکـــه**
**روژه نـــــه نیـــــسي اُمـــــت د جنتونـــــو**

**پـــرې چـــې دا دنیـــا خـــو وګټـــو ســـړیه**
**مـــونږ تـــه چـــا کړیـــدی ســـت د جنتونـــو**

**د چـــا غیـــږه مـــې پـــه زړه بانـــدې وربـــړي**
**څوک دې خدای نه کړي عادت د جنتونو**

**د جومات د دروازې ځنځیر دې پروت وي**
**چـــې مخلـــوق نلـــري نیـــت د جنتونـــو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ته زړه خورمه چې وبه نشي یاره
غر هم لوړ دی او په سر نلري لاره

حوصله تمامه شوې ده ملګریه
ځه چې ځو د خودفروشو له بازاره

زړه د لارې په سر سیوري ته ویده دی
سترګې شویدی له ډېره انتظاره

آزادي خو به ژوندي ولس ته غواړې
څه دا خلک، څه یې خوله، څه یې کوکاره؟

اوس کراري جنتونو کې اوسېږه
چې زما سترګې دې خوښې شوې ***درځاره!***

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لکــه پــه دښــته کــې ولاړه وچــه ونــه
هيلې دومره هيلې دي چې مکوه پوښــتنه

ژوند ددې بازار په يوه لاره کې هــم نشــته
دومره خاموشي خو به مې ورک کړي له وطنه

ځمه چې وعده د بيا ليدو يې پــوره شــوې
بيا به راتــه وايــي چــې دا ولــې دروغجنــه

خاورې د ولس په اننګو بانــدې پرتــې دي
ګرځــي ډلــه ډلــه رهــبران ســپينه لمنــه

چا چې ښايســتونه درتــه وښــودل ***درځــاره***
تــا لــه هغــو ســترګو نــه هــم ونکــړه مننــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په ما یــې هــره شــېبه مــرګ تــه انتظــار وکــه**
**آب حیات سترګو خبر یې چې څه کار وکه!؟**

**د خپــل مــین د پېژنــدو نــه یــې انکــار وکــه**
**آب حیات سترګو خبر یې چې څه کار وکه!؟**

**زما په مخ کې یې په بـل د ګـل ګـوزار وکـه**
**آب حیات سترګو خبر یې چې څه کار وکه!؟**

**په ډکو ســترګو مــې مــزل پــه ټولــه لار وکــه**
**آب حیات سترګو خبر یې چې څه کار وکه!؟**

**لکه چې ژوند مې نور د بل په اوږو بار وکـه!!**
**آب حیات سترګو خبر یې چې څه کار وکه!؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تا مين په تـا د ښـې خـبرې حـد نکـوي
د تا ښايسته غوندې سړي سره څوک بـد نکـوي

خدای به زما د رقيبـانو زړه خوشـاله نکـړي
د ناروا خلکو خو ښه دی چـې مـدد نکـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشې خبر چې څومره شور زما په زړه کې دی
سياهي سترګو کې ده، اور زما په زړه کې دی

د ښايسته سترګو سړی ما پرېښودی نشي
چې خدای ورکړی ورته کور زما په زړه کې دی

درد خپله وسه د مسکا د پټېدو کوي
لږ مې په مخ باندې او نور زما په زړه کې دی

ددې ولس د بيدارۍ ارمان مې نه پرېدي
ګورې چې لارې لارې خور زما په زړه کې دی

***درځاره*** هر سړي ته وايمه چې ځار دې شم
مړه چې دا لا څومره زور زما په زړه کې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زمـــا د بیـــا زړه درکولـــو اراده نـــه وه**
**خو چې د خدای په څه رضا وه د بنـده نـه وه**

**زمونږ نصیب داسې چې لمر به و، رڼا نه وه**
**باران بـه ووریـده ځمکـه بـه لمـده نـه وه**

**د ښایسـتونو ملګرتیـا مـې نـوره پرېښـوده**
**په محبت کې مې څه خاصـه اینـده نـه وه**

**زه چې د چا د سترګو ذکر فکر دواړه کـوم**
**هغې ته یاده زمـا هـیڅ یـوه وعـده نـه وه**

***درځاره*** **ستا ولس اوس هم د نیمې شپې غـل دی**
**نوره دنیـا بـه د غرمـې پـورې اوده نـه وه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستا د لیدو، د پېژندو، د خپلېدو ارمان !**
**په للمه ځمکه د باران د ورېـدو ارمـان !**

**په نالیدلي مخ مین یمه، توبـه خدایـه !**
**چې چا به کړی وي زمـا د ورکېـدو ارمـان !**

**او ستا ښایست او خـوږلني پـوره کـولی شي**
**پـدې دنیـا د جنتونـو د شـیدو ارمـان !**

**زمونږ په زړونو کې د آمـن د لیـدو ارمـان !**
**پدې ولس کې د رڼا د خورېـدو ارمـان !**

***درځاره* هغه سړی کرکه پرېښودی نشـــي**
**ملگریه مکوه د سیند د وچېـدو ارمـان !**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه بوسه زما د وینې مخ نه هم واخله**
**زما ګلابه ماته مینه راکه غم واخله**

**دا ځنګېدلي قدمونه زما زړه پرېباسي**
**که ته خفه یې، قدمونه خو لږ سم واخله**

**له یاره لرې یې او نښه د بېلتون نلرې**
**دې تور اوربل ته دې ګلونه د شرشم واخله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونـــــه راسره دي انډيوالـــــه
اُمېدونـــــه راسره دي انډيوالـــــه

رڼايي به لکـه لمـر راپسـې راشي
بارانونـــــه راسره دي انډيوالـــــه

آزادي پـه شـعارونو بانـدې غـواړو
بيرغونـــــه راسره دي انډيوالـــــه

چې پيسې دي که د خلکـو ادرسـونه؟
کاغذونـــــه راسره دي انډيوالـــــه

ځه ***درځاره*** چې له ځانه چرته پټ شو
نقابونـــــه راسره دي انډيوالـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انتظار، په حوصلې، په صبر څه وشو
ما په خوبونو باور کړی و بس نه وشو

ژوند د وحشت نوم و، د وينې تويولو کار
محبتونه نه روا کار و او نه وشو

د ګناهکارو ښار کې خاورې او ګردونه دي
زمونږه برخه بارانونه هم په غره وشو

نو ستا په غېږه کې هم تود نشومه وه ياره !
ښه نو زما په جنتونو کې ساړه وشو

***درځاره!*** اوس په هرې ښې بدې ژړا ورځي
زه نه پوهيږمه چې څه شی مې په زړه وشو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــــــــروره د بښـــــــنې ضرورت دی
مونږ ته ســتا د پیرزوینــې ضرورت دی

مسافر يکې د ځان سیوري تــه ناسـت وي
دې صحرا ته خـو د ونـې ضرورت دی

ته د خولې په ورکړه دومره محتاط نه يــې
بـــس د تشـــې يـــادونې ضرورت دی

خدای ته څنګه په نیمګړي عمـل ورشـم؟
د بنــــده د سپارښــــتنې ضرورت دی

چې خفه وم په غزل يــې راپخـلا کـړم
لــه **درځـــار** نــه د مننــې ضرورت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځه چې ځې ګلابه، نو د بیا لیدو په هیله
غاړه راکه شابه، نو د بیا لیدو په هیله

تانه مې د ځان په اړه کړې وه پوښتنه
پاتې بې ځوابه، نو د بیا لیدو په هیله

ستا له جنتي غېږې نه لرې پاتې شوی
مړ شوم له عذابه، نو د بیا لیدو په هیله

ځمه چې ماښام دی فاصله هم ډېره لرې
لاره هم خرابه، نو د بیا لیدو په هیله

ستا خبرې نوي دي خو زه په ژوند کې ډوب یم
بند مې کړې کتابه، نو د بیا لیدو په هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مینــه زمــا لپــاره کمــه راتــه ښــکاري
نن مې انډیوال داسې بېغمه راتــه ښـکاري

ستا د تلو نه پس مې دا ورغوي یـخ کـرخ شي
ستا دتلو نه پس لکه چې مرمه راته ښــکاري

چرته چې د ورانې سر دی مونږ پورې تړلی
داسې خبر نکوو چــې ســمه راتــه ښــکاري

دومره مې تلوار ستا ابـادۍ تــه دی وطنــه
تشه غوندې ساه ویستل هم دمه راتــه ښــکاري

ســتا د دعاګــانو تــلاوت کــوي ***درځــاره***
دا پیغمــبري څېــره عجمــه راتــه ښــکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژوند په جوړولو جوړولو باندې وران شــو**
**خدایه ستا راکړی امانت رانـه تـاوان شـو**

**داسې پسرلــي ته مې له زړه نه دعـا وکـړه**
**تاسره روان ومـه پـه لاره کــې بـاران شـو**

**ډېرې بې نیازۍ دې هم په زړه باندې مات نکړ**
**ستا مین په تاپســې بــې ســته راروان شـو**

**ما ویل چې دا ولس د سولې پـه مـذهب دی**
**تا ویل چې ټول عمر دې تېر پـدې ګومـان شـو**

**ته د نفرتونو ښار کې څه کــوې *درځــاره؟***
**دا لکه د خدای کور چې په دشته کې ودان شـو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښایسـتونو دې تمامـه ورځ سـتاینه کـوم**
**خدایه! ددې ورکړې دې بې حده مننـه کـوم**

**د جنتونـــو ننـــداره بلکـــل د راز خــــبره**
**خو په پنځه وخته مانځه کې یې غوښـتنه کـوم**

**مانه مې زړه ستاسو د ښار په سرکونـو پـاتې**
**اوس یې په لاره کې له هر سړي پوښـتنه کـوم**

**چې آزادي نه غواړم ژوند غواړم د ځان لپـاره**
***درځاره* څه وشو چې داسې تېروتنه کـوم؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما برخــه خــو د ســپينو واورو غــر دی**
**خو چې ستا مينه مې و نه سـېزي لمــر دی**

**ستا په ټولو کې په ما سترګې خوږې شــوې**
**بختــورې! پيــداکړی دې ګـــوهر دی**

**د ښايســته و د مخونــو پــرده پــوښ دی**
**د ښــارونو پــه ګردونــو کـــې هـــنر دی**

**آزادي زمــا د خپــل وجــود حصــه ده**
**غلامـــي زمــا د ټــول وجــود ضرر دی**

**ته *درځار* يې او پوهېږې چې زه څوك يــم؟**
**څوك چې ستا د زړه په هر ټکي خــبر دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډکو سترګو مې د دوه سترګو ارمان کېږي
په تمه ناست یمه چې کله به باران کېږي

خدایه احسان دې د بنده د هېرولو ندی
د شرابونو روژه ماتي په اذان کېږي

د خپل نظر د کرامت نه به ته نه یې خبر!؟
ستا په نظر په تورو خاورو کې ګلان کېږي

دا بې رُخي ددې نړۍ مې زړه ته شک غورځوي
پدې ځلورو کتابونو مې ګومان کېږي

په باریکۍ د ښایستونو باندې نه پوهېږي
په درځار هرځلې څه ټوکه د نادان کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نفــرت یـــې انـــدازه ورسره نشـــته
هیڅ لحاظ ددې بنــده ورسره نشـــته

د دې تور سړي دا تور ټوپک مې بد شي
د خـــــبرې حوصـــــله ورسره نشــــته

ستا عمل د جنتونــو د مخلــوق دی
خـــو چـــې ولـــې اراده ورسره نشـــته

پښـــتنو تـــه د رهـــبر وژل روا دي
پیغمـــبر دی معجـــزه ورسره نشـــته

زما خاورې زما مینې تا بــه ژغــوري
یو سړی دی چې پیسه ورسره نشـــته

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک دې نه وايي چې څنګه بې باکي ده
په وجود کې مې خماره خپلواکی ده

خامه لاره ده ماښام دی تاریکي ده
نو اړتیا د یو واړه اوورکي ده

ډکې سترګې ځنګېدلي قدمونه
تالا کړې دې نشه انګور تاکي ده

اوښکې تویې کړمه اوښکې پاتې نشي
مرغلره مې په نیت باندې شکي ده

د عجمو حیراني ګوره ***درځاره***
چې غزله دې عربه ده مکي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زمونږ زړونــه هــم د غوښــې دي ګلابــه**
**دا ستا دوه سترګې مې خوښــې دي ګلابــه**

**پـــسرلی مــې د خــزان لــه زوره نــدی**
**پــه څپــره دې د غــم نښــې دي ګلابــه**

**زه خو ستا د ښــو شــمار کــوم درګــورم**
**او ستا سترګې په چا خښــې دي ګلابــه**

**زمــونږ فکــر د ولــس لپــاره خــور دی**
**خو حالات داســې بــدمخې دي ګلابــه**

**که په زړه شي نو *درځار* د غــزل نــدی**
**خــو دا ګــوتې خواریکښــې دي ګلابــه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځوي له ځانه سره ځان په کتابچــه کــې
ګل مې رسم کړی د جانان په کتابچه کــې

تاتــه مــې لیکلــی غــزل مخــې تــه راغلــی
دوه کاله یې تېر کړل په ارمان په کتابچه کــې

رنګ مې په قلم کې نه و تش مې خوځولــو
خط ته مې ښوونکی و حیران په کتابچــه کــې

نه ځمه ددې کوڅې په لاره بانــدې چرتــه
نوم مې لیکل شوی د دوکان په کتابچه کې

(خ) خپلواکي، دا د هر وګړي ضرورت دی
ولیکئ پدې باندې عنوان په کتابچــه کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېده چې لمر راپسې ټوله ورځې ګوري لاندې
په خوب عادت يمه د شنو ونو د سيوري لاندې

د تورو غرونو ژوند د خداى له نعمتونو ډك دى
په سر يې واورې وي ګلان وربانديې اُوري لاندې

دا څه پاچا دى چې ځواب د چا ويلى نشي
دا څه لښكر دى چې خملي د كمزوري لاندې

ستا څه ګومان دى چې *درځار* له تانه ځار ندى څه؟
مينه مې ژوند كوي د نوم د توري توري لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې لږ پاتې شې څه لار کولی نشې؟
زلمیتوبــه انتظــار کــولی نشــې؟

چې مونږ نه غواړي زمونږه پکار نـدی
عریضـه خـو پـه سرکـار کـولی نشـې

یه ناځوانـه ، د سلام ضرورت څـه و؟
چــې پوښــتنه د بـیمار کــولی نشــې

ډکې سترګې درته ناسـت یمـه ګلابـه
څه چاره مـې د خـمار کـولی نشـې؟

ته مجبوره یې چې خوله پخپلـه ورکـړې
منتونــه پــه **درځــار** کــولی نشــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کنګل ژمی او یخنـي لکـه زنـدان دی**
**توبـه! دا مسـافري لکـه زنـدان دی**

**که ښار ښکلی دی نو خلك يې پردي دي**
**هر سړی پکې بنـدي لکـه زنـدان دی**

**ماتـه خپلـه ملنګـي ستا پاچـاهي ده**
**تاتـه خپلـه پاچـاهي لکـه زنـدان دی**

**مـا تـر ډېـره پکـې وسـاته ملګريـه**
**دا ستا سترګې ګـلابي لکـه زنـدان دی**

**د جنت نه به دې منـع کـړي *درځـاره***
**میخانـه ددې سـاقي لکـه زنـدان دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مازيگر شو.....

مـــازيگر شـــو د اذان ازانگـــې راغلـــې
پنځه شپږ کسه دي جمه يـې زړه غـواړي
د پټـــي او د راغــه لـــه کـــارو ســـتړي
مونځ به هم وکړي خو دمه يې زړه غواړي

***

د کيسـو لپـاره بـل داسـې ځـاى نشـته
چې زاړه د يو بل خـواوو تـه راټـول وي
چې په اوړي کې د يخې دېـرې سـيوري
او پـه ژمـي کـې پيتـاوو تـه راټـول وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی لپـــاره د دوزخ پـــه کنـــاره ســـړیه
دا خلك نه ارزي په زړه خوړلـو وه سـړیه

په قام او خلکو باندې زړه زمونږه درد کـوي خـو
په ګېډه مه منـډه د سرو زرو چـاړه سـړیه

په لوڅو پښو باندې د ځمکې تنابونـه وهـو
خو چې د چا سره په لاس کې ده قیضه سـړیه

اوس مې په سترګو او په مخ باندې وهه سـړیه
ما درته خپله ویل چې مـاسره راځـه سـړیه

اوړی، روژه او دا پردۍ مزدوري سخته نـده؟
په ماسپښین کې یوه سترګه خـوب کـوه سـړیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ابادي.....

پدې شپږ میاشتو کې یو باران ونشو
خو د غـره اوبـه پرېمانــې راروانــې
د سوونو کـالو واورې ویـلي شــوي
پــه لښــتیو کــې حیرانــې راروانــې

***

خدایه رحم دې له هغه څه نه ډېر دی
چې بنده دې اورېـدلي لـه مـلا نـه
د فصـــلونو او د ونـــو ابـــادي ده
وېـــره نلـــرو د اوړي لـــه بـــلا نـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا مــاذيګر دا ډېــره لاره دا يــواځې ســفر**
**له مانه کلــه کېــږي يــاره دا يــواځې ســفر**

**د ژونــد کولــو حوصــله راسره پــاتې نــده**
**بيا هم کوم د چــا لپــاره دا يــواځې ســفر**

**په ځنګېدلو قدمونو چرته نه ځــي خلــک**
**راباندې اوږد شو خــماره دا يــواځې ســفر**

**ښه، زه د زړه د بې کسۍ پېغور ته څه ووايم؟**
**سره له دومــره بيروبــاره دا يــواځې ســفر؟**

**هغه دوه سترګې جنتونه دومره لرې نــدي**
**خو که ته ومنې *درځــاره* دا يــواځې ســفر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څه ګناه باندې لیدلی زمانې یمه
د انتظار په اور نیولی زمانې یمه

په ګُمنامۍ مین له ځانه هم پټېږمه
او ګوره بیا هم پېژندلی زمانې یمه

چې زندګي پکې د ټکنده غرمې نوم دی
پداسې دشته کې کرلی زمانې یمه

آمن ددې وطن د خلکو د مذهب نوم دی
خو تشدد ته لمسولی زمانې یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــره تــول بــه یــو پنځــه ګامــه ســفر و
زنـــدګي څـــه وه؟ د ژمـــي مـــازيګر و!!

ګـــل يـــې واخســـته مننـــه يـــې ونكـــړه
دا سـړی لكـه چـې اوس هـم مـرور و؟؟

د چا دوه سترګې مې دوه ساګانې ژوند و
او پخپلـــه هـــم پـــدې بانـــدې خـــبر و

ښـار احسـاس د يـو سـړي راتـه راكـړی
چـــې لـــه ډېـــرو روايـــاتو نـــه منكـــر و

د چا زړه ساتل مـې زده نـه وو ***درځـاره***
د ملګـــرو پرېښـــودل مـــې يـــو هـــنر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه داسې خو نده چې یو ماتـه نـه راګـوري**
**ژونـد لکـه روانــې اوبـه شـاته نـه راګـوري**

**مړاوی یمه پاڼې پـاڼې تـوی نشـمه خدایـه!**
**نــن راتــه هغــه آب حیاتــه نــه راګــوري**

**ښه وایي ، له زړه نه زړه تـه لاره خامخـا وي**
**اوس مې چې هېر کړی دی نو شاته نه راګوري**

**لاس راکړي چې بیا بـه سره وګـورو ملګریـه**
**سـترګو کـې ساتلې تمنـا تـه نـه راګـوري**

**زه له یوې هیلې نه تېر شـوی یـم *درځـاره***
**لوی خدای به مې دې وړې ګناه ته نه راګوري**

(c) ketabton.com: The Digital Library



منزل خبر دی چې مزل راپسې نه کوي نور
په لاره لاره په ازغو شیندلو څه کوي نور

د غم موسم دې پسرلی شو ابادي یې راوړه
سترګې مې وچې پاتې نشولې اوبه کوي نور

خپله څېره دې په هینداره کې و نه پېژندله
زړه ته دې ووایه چې مونږه سره ښه کوي نور

چې مونږه جنګ غوښته نو خلکو شاباسی راکاوه
چې مونږه سوله غواړو تشه تماشه کوي نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



درد شېبه، شېبه، شېبه پــه ډېرېـدو دی
ضرورت د هغـــه ســـترګو د لیـــدو دی

پدې زړه کې هر سړي ته مینه شـته ده
ښار خو ځای د ټول ولـس د اوسـېدو دی

مونږ پرهېز د خدای لـه ډېـرو نعمتونـو
ژونــد روان د جنتونــو پــه وعــدو دی

ته قسم وکړه چې نـن بـه پـاتې کېـږې
او موســم هــم د بــاران د ورېــدو دی

زه د خــاورې آزادي غــواړم ***درځــاره***
خو په ما تور د مذهب د پرېښـودو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کمـــیس او د وجـــود مناســـبت دی**
**مانه نــه کېــږي، د صــبر ضرورت دی**

**دا ولـــس د ښایســـتونو ســـلطنت دی**
**او مخلوق ورتــه راغلــی د جنــت دی**
**نه ملنګــه! ســتا دعــا خــو بــه لګېــږي**
**خدای درکــړې مرتبــه او ولایــت دی**
**زوړ ایــمان مــې امانــت درتــه راوړی**
**زمونږ دغســې بــې ګټــې تجــارت دی**
**ستا د لپې غوندې غټې غټې سترګې**
**دا د غټـــو غټـــو خلکـــو علامـــت دی**
**د نینو غوندې مې خولــه پســې تړلــې**
**نېچه کړی مې په پاڼه کې شهرت دی**

**چې ملګرو ته کمزوری شــوې *درځاره***
**تـــا نیـــولی د پاچـــا ملازمـــت دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې هم مات شو د باور د ماتېدو نه پس
څه خو به کېږي ددې دومره څه کېدو نه پس

د هغه سترګو په لیدو مې هیلې ډېرې شوې
پسرلی راغی د باران د ورېدو نه پس
ددې ولس د بیدارۍ ارمان مې خاورې شو
خلک ړانده شو د رڼا د لګېدو نه پس
د مابنام وېره مې د خدای له وېرې ډېره ده
زه کور ته ځمه د اذان د اورېدو نه پس
ډېرې خبرې مې راوړي وي خو پاتې شي
دا زه ګونګی ولې شم ستا د غږېدو نه پس؟

***درځاره*** خپله خاوره هم راباندې حق لري
جنت به غواړو د وطن د جوړېدو نه پس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې ته راځې نو تر هغې دې باران هم وشي**
**ستا هـرکلي تـه بـه پـه لاره ګـلان هـم وشي**

**کلونـه کېـږي د يـو چـا د ليـدو تـږی يـم**
**او نــن بــه دا د روژه مــاتي اذان هــم وشي**

**په نوم دې ياد يمه څېره مې درنـه هېـره ده**
**کله ناکله خو مـې داسـې ګومـان هـم وشي**

**په دوه سجدو باندې جنت له خدايه غواړمـه**
**او بيا مې شک د بل سړي په ايمان هم وشي**

**چې پـسرلی هـم وي او دا د ښايسـتونو ښـار**
**څه نو په مـونږه خـو دې دا امتحـان وشـی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ښو څوکې دې ځان پلو ته قات دي**
**خلك خپلو کې په شر دي څه حالات دي**

**زمونږ زړونه چې په هسکو غاړو نه ځي**
**د ښایسته و په لاسونو پـه مـلا مـات دي**

**د ښار لارو او کوڅو ته خو راوځه**
**د ولس درسره ډېر ملاحظات دي**

**د رنګونو مجموعه راته ښکاره شوه**
**په څېره کې دې شیندلي کاینات دي**

**نن د بلې غزا دور دی *درځاره***
**بیا وژل د ژوندي شوي سومنات دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا وژړل او زه وربانــدې ويلــې شــومه تــوی شــوم
چې ژيړ ګلاب دې راکړ نو په تولـه کيسـه پـوی شـوم

مکتــب نــه و کتــاب نــه و اوبــه مــې خرڅــولې
ملګريه زه هم تـا غونـدې پـه لارو کـې رالـوی شـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه ته راغلي ته مې وويل چې ځه بېرته
يو نازولي ته مې وويل چې ځه بېرته

مينه خو څه چې د پښتو فکر مې ونکړ
او رابللي ته مې وويل چې ځه بېرته

زه چې خفه شمه، خفه يمه بيا ټول عمر
نو هغه ښکلي ته مې وويل چې ځه بېرته

مرګ ته مې وويل چې ژوند مې شروع کړی دی
بلا وهلي ته مې وويل چې ځه بېرته

درځاره دا سفر يواځې هم کولی شم
پښه نيولي ته مې وويل چې ځه بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



که نوروز دی که اختر دی کـه بـرات دی
زما درد پکې له هـر سـړي نـه زيـات دی

مــه مســج کــوه مــه خــط راتــه رالېــږه
ستا د نوم لـه اخســتلو مــې زړه مـات دی

يـــره هـــره شـــېبه وېـــره د يـــو بـــم وي
دا زمونږ کور دی، دا مخامخ جومات دی

غـــږ مــې نـــه اوري راتـــه راتـــه راګـــوري
هغــه ښــکلی پــه مثــال د ســومنات دی

ســـتا د طـــور رڼـــا زمـــونږ لپـــاره نـــده
ته موسا يې منسوخ شوی دې تـورات دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا يې راته وويل چې ستا د لاسه مړه
اوس مې خوب خداى تښتولى د سودا د لاسه مړه

ستړي مشي راته وکړه خو د لرې نه جانانه
ناروا به رانه وشي د روا د لاسه مړه

مسلې مسلې نشته پېغورونه دي سريه
جوماتونه رانه پاتي د ملا د لاسه مړه

زړه ساتل د سر ساتل ندي چې جنګ ته به لاړ نشي
دا خو هره ورځ ماتېږي د يو چا د لاسه مړه

پسرلى په تېرېدو دى جنتي شېبې قضا شوې
هغه مخ ته کتى نشم د حيا د لاسه مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله هم راځي خو د یــو ســت کــول ضرور دي
داسې لکه لمونځ ته چې د نیت کــول ضرور دي

کلــه کلــه غــم تــه مخــه ښــه ویــل پکــار وي
شــوخو ماشــومانو تــه منــت کــول ضرور دي

زه خو بیا مــین شــومه پــه دوو نــورو ســترګو
ماته داسې دی چې محبت کــول ضرور دي

څه مــونږه؟ او څــه زمــونږ نیمګــړي عملونــه؟
نه ویل کیږي، تمه د جنت کــول ضرور دي

کړې وعده هم پوره کول غواړي خو بیا هــم
ښکلو ته د نــه راتلــو عــادت کــول ضرور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې منګولو کې نیولی دی او ژاړم ورته
د محبت لپاره دوه ورځې ژوند غواړم ورته

د هغه سترګو د لیدلو دُعا نـه اوري څـوک
چې دلته څومره زیارتونه وو نـو لاړم ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پُل صراط وي که د سور دوزخ په غـاړه وي**
**ستا د لیـدو شـېبه دې سـل کالـه ولاړه وي**

**زړه وي، په زړه کې یې زمونږ لپاره ځای نه وي**
**سیند دې بهېږي شاوخوا ځمکـه دې شـاړه وي**

**وایم ګیله وکړم خفـه شـمه خـو نـه کېـږي**
**چې ستا په سترګو کې غوسه او مینـه دواړه وي**

**چې آزادي نه وي د خاورې آبادي نـه وي**
**غر به سـپېره وي او هـواره بـه ویجـاړه وي**

**یره کـه مـا بـه د خېـرې نـه پېژنـدلی یـې**
***درځاره* ستا ګناه دې هم زمـا پـه غـاړه وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زما مرګ او زمـا ژونـد سـتا پـه اختیـار دي**
**زه چــې څــه لرمــه ټــول د تانــه ځــار دي**

**دا مونځونـــه او نفلونـــه یـــې قبـــول کـــړه**
**خدایـه! ټـول سـتا د لیـدو پـه انتظـار دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس پښېمانه يې پـه خپلـې فيصلـې بانـدې**
**د ژوند سفر خو به کوې پـه حوصلـې بانـدې**

**کال پس راغلی يې... څه ښه دی چـې راغلـی يـې**
**نورې خبرې مې اوس نه راځي په خولې بانـدې**

**خلکو ته ووايه چـې مينـه هـم لـږ ووېشـــي**
**ستونی دې وچ شو د زکات په مسـلې بانـدې**

**د هغـه سـترګو د ليـدو نـه بغيـر نـه کېـږي**
**خدايه خبر خو يې د زړه په مامله بانـدې!؟**

**نو سترې مشـې دې هم ډکـه لـه خفګانـه وه**
**او مخه ښه دې هـم ولاړه پـه ګيلـې بانـدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بې سـببه خاموشـۍ عذابـه بـس دی نـو
زه دومره نه یمه د درد له تابه بـس دی نـو

ستا محرم محـرم ناسـته مـې رایـاده شـوه
دا ته په څه خفه یې وه ګلابه بـس دی نـو

په اور کې ناست د بل لپاره پسـرلی غواړې
د پښتنو خو شوه خانه خرابـه بـس دی نـو

د بیـا راتلـو لپـاره ټـولې دروازې بنـدې
د هغه سـترګو د لیـدو ثوابـه بـس دی نـو

زه پـه هغـې پُـل صراط پـورې وتـې نشـم
ځار شم د خدای له دې ښایسته کتابه بس دی نـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په اراده کېږي نو ژوند خــو خپلــه نــه کېــږي**
**ته چې کارې ناست يې ستا به مرګ ته زړه کېږي**

**هغــه جنــت دی، بــس دا دوه قدمــه لاره ده**
**که لږه نــوره حوصــله وکــړې نــو څــه کېــږي**

**جــلال ابــاد د ژمــي هــم نــدی، کنــه يــاره!؟**
**راځه چې کور ته ځو دباندې مې ساړه کېــږي**

**سترګې مې نشته دی نو ښار هم راته نه ښکاري**
**که نــه احســاس د ښايســتونو راتــه ښــه کېــږي**

***درځـــاره* تــه د آزادۍ خـــبرې ډېـــرې کـــې**
**مبــارزه خـــو پـــه خـــبرو بانـــدې نـــه کېـــږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دتلو د ورځې نـه بـې رنګـه دی بربـاد دی
اوس جلال اباد هسې په نـوم بانـدې ابـاد دی

خدایه ستا جنت ته د تلو لاره څومره لرې شوه
هــر ســړی لیــدلو تــه لېوالــه د جایــداد دی

مورې دعاګانې ورته وکـړه چــې سرلـوړی وي
ستا بچی خو ستا په دُعاګـانو بانـدې ښـاد دی

ګوره پاچا غږ کــوو چــې مـونږه آزادي غـواړو
تاتــه خــو زمــونږه تـاریخ پاڼــه پاڼــه یـاد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې څه وغواړې کولی شې خو نه یې کــوې
ستا د راتلو ضرورت دومره دی چې څه یــې کــوې

زه چاته نه وایم چې ښکلی یم او ښکلـی نـه یــم
مګر که دا پوښتنه نن راځې او تــه یــې کــوې !

ستا د لاسو په سترګي مشـــي مــې ســاړه ونیـــسي
او که په سترګو کې یې هم کوې نو ښــه یــې کــوې

مــونږه لــه ډېــرو رحمتونــو نــه بېــزاره خلــك
خدایه باران کې زمونږ ګټه نشته مــه یــې کــوې

د عمــر لاره دې پــه صــبر بانــدې لنــډه کړلــه
ظلم همدومره وي درځاره چې پــه زړه یــې کــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه ورغــوي د نکریــزو گــل کــاري ده
هــای! د زړه کیســه مــې نــوره سرکــاري ده

خلــک ډېــر و مــونږه تاتــه مینــه درکــړه
د ښایســـت سره زمـــونږه همکـــاري ده

کور کې ښه یمــه د مــرگ وېــره بــه نــه وي
ښار کې هســې هــم څــه نشــته بېکــاري ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه بېرتـــه لاړم بلـــه شـــپه مـــې ولا ونکـــړه**
**ته به خفه يـې چـې پوښـتنه مـې سـتا ونکـړه**

**په هغه دوه سـترګو مـې بيـا مينـه راغلـې ده**
**يره چې دا خـو مـې څـه نـوې ګنـاه ونکـړه؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چرته نه ځمه په خلکــو پســې، رادې شي
که زندګي رانه خفـه وي نـو پخـلا دې شي

ته به زمونږه وچــو شــونډو تــه هــم نګــورې
که جنتونـه د ســاتلو شــی وي ســتا دې شي

هغه ســړي تــه مــې د زړه خــبره هــم وکــړه
خدایه که نکېږي هم، څه کېږي رضـا دې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درده پرېمانه شې په خپلې وعدې نه راځې
زه دومره بد شومه چې ته هم نـزدې نـه راځـې

د ښایسته سترګو سرې راته مسکی ناست دی
ته چرته مړه یې، د ګناه ارادې نـه راځـې ؟

ډېره موده وروسته دې بیا په خوا کې ګورمه
درځاره پرېده مړه ته بې فایـدې نـه راځـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به خبر هم شې خو دا ورځې به تېرې وي
د ماتو زړونو دومره صبر چېرې وي

د ګلاب مینه د کوکنارو په ګل نه ماتیږي
زما به نه خوښیږي، سترګې خو به ډېرې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شپه کېږي سبا کېږي) بې لـه څنـډه زمانـه
تېرېـږي د اوبـو غونـدې پـه منـډه زمانـه

پښتون ګوره د څو زره کلونو زوړ بنـده دی
ترې کـشره ده دا ښکته پورته غونـډه زمانـه

لدې نه پکې وروسته نوره منډه کول غواړي
تـر دې دمـه مـو وخـوړه پـه ټنـډه زمانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لاس راته راکه چې ګيله مې درنه ختمه شي**
**نور مې پخلا که چې ګيله مې درنه ختمه شي**

**خدايه! يوه دعا مې هم لکه چې نه اوري؟**
**هغه زما که چې ګيله مې درنه ختمه شي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



درد تــه مــې جــامې بــدلې کړیــدي
مــونږه خـــو نــامې بــدلې کړیـــدي

مــه راځـــه د ګـــلي ارمـــان مکـــوه
ظلـــم علامــــې بـــــدلې کړیـــــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژیړ ګلاب پاڼې د لیک سره جوړه راغلي
صــبر پکار دی په مطلب د رســېدو لپاره

زما ارمان دی چې بې جنګه زما نه وګورم
جنت ته نه خمه د شـــاتو او شـــیدو لپاره

Design by: Andish Graphics

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**